بنیادانتخابات آزادوعادلانه افغانستان

Free & fair Election Foundation
of Afghanistan

دافغانستان دازاد او عادلانه ټولټاکنو بنیاد : دټاکنیزوشکایتونو دکمیسیون لخوا  د ټاکنیزو شکایتونو څیړنه او د رایو دوهم ځلی شمیرنی بشپړیدل دټاکنو پر بهیر دخلکو داعتماد لوړلو کی دارزښت نه ډک عمل ګڼی .

دټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ددوهم ځلی رای شمیرنی بهیر دټاکنودقانون پربنسټ او دټاکنودخپلواک کمیسیون دبشپړه همغږی په درلودلو سره دنوماندو داستازو او دڅارونکو سر ه دنژدی څخه دمعلوماتو دشریکولو له لاری بشپړ کړی دی .

بنیاد پدی باور دی چه دټاکنیزو شکایتونو کمیسیون کار دهمدی پریکړی په نیولو سره پای ته ندی رسیدی ، ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید دخپلو صلاحیتونو په کارولو سره ټولوهغه ستونزو او سرغړونو ته چه دټاکنو اداره او سازماندهی ته ګټور دی قانون سره سم رسیدګی وکړی .

احمد نادر نادری دبنیاد عمومی ریس ، دټاکنیزو سرغړونو څیړنه او په هکله یی  پریکړه کول او ددغی پریکړی څخه دکاندیدانو او دافغانستان ولس ملاتړ په هیواد کی دټاکنو پروسی باندی دعامه اعتماد بیا رغولو په موخه یومهم ګام بولی .

دافغانستان دازاد او عادلانه ټولټاکنو بنیاد ژمن دی چه دټاکنوخپلواک  کمیسیون سره په ټاکنوباندی  داعتماد زیاتیدو په موخه خپلو هر اړخیزو همکاریو ته دوام  ورکړی .

درناوی

دازاد او عادلانه ټولټاکنوبنیاد مشر تابه پلاوی